د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتون

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی

د پلان و پالیسی (ستراتېژیک پلان) فرعي کمېټه

# د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي ستراتېژیک پلان

(۱۴۰۴- ۱۴۰۸ هـ ش)

کال: ۱۴۰۴ هـ. ش

## فهرست


د پوهنځي د رئیس پیغام ........................................ 1

مفاهیم ( اصطلاحات) ........................................ 2

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ........................................ 5

مقدمه (کلیات) ........................................ 6

د پنځه کلنې بودیجې لنډیز........................................ 7

د استادانو علمي څېړنې او تالیفات........................................ 7

زېربناء او اسانتیاوې ........................................ 7

د تېرو ستراتیژیانو د موفقیت اندازه ........................................ 7

د تېرو ستراتیژیانو د عدم موفقیت موارد ........................................ 7

د اداري کارکوونکو شمېر ........................................ 7

لرلید........................................ 11

ماموریت ........................................ 11

د پوهنځي ارزښتونه ........................................ 11

**اسلامي شعایرو ته درناوی** ........................................ 11

**ملي ګټو ته ژمنتیا** ........................................ 11

**مسؤلیت منل او ټولنې ته ځواب ورکول**........................................ 11

**متقابل نظریاتي درناوی** ........................................ 11

**متفاوت روزنیز چاپیریال** ........................................ 12

**اکاډمیکه خپلواکي** ........................................ 12

**عادلانه زده کړې او مسلکي چلند** ........................................ 12

د پوهنتون ستراتیژیک اهداف ........................................ 12

د پوهنځي ستراتېژیک اهداف ........................................ 12

لوړو زده کړو وزارت ستراتېژيک اهداف ........ 13
د محیطي عواملو تحلیل ........ 18
د داخلي چاپیریال د عواملو تحلیل ........ 18
د بهرني چاپیریال د تحلیل عوامل ........ 20
د چاپیریالي عواملو مقایسه (داخلي+ بهرني) ........ 22
د IE روِش ........ 22
د SWOT روِش ........ 23
د پوهنځي د ستراتېژیو ټاکنه ........ 24
د ستراتېژیو لومړیتوب ........ 26
د ستراتېژیو لومړیتوب ........ 28
د ستراتېژیو لومړیتوب ........ 30
د ستراتېژیو لومړیتوب ........ 33
د ستراتېژیک لومړیتوب ټاکنه ........ 36
د لنډ مهاله اهدافو ټاکل ........ 37
تدوین شوې عملیاتي برنامې ........ 38
بودیجه ټاکنه (**مالي پلان**) ........ 69
د ستراتېژۍ اجراء کول ........ 70
د ستراتېژۍ ارزونه (نتیجه) ........ 71
تائید او تصویب: ........ 71

## د پوهنځي د رئيس پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله رب العلمين و الصلوة و السلام علی سيد المرسلين و علی آله و اصحابه اجمعين**

د پوهنځي ستراتيژيک پلان يو مهم سند دی چې د لوړو زده کړو پراختيا، علمي نوښتونو پياوړتيا، او د ټولنې پرمختګ لپاره واضح لاره ټاکي. موږ ژمن يو چې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی يو نوښتګر، بااعتباره، او د ملي و نړيوالو معيارونو مطابق علمي بنسټ وګرځوو، چيرته چې تدريس، څېړنه او ټولنيز خدمتونه په متوازنه بڼه پرمختګ وکړي.

دا ستراتيژيک پلان مشخصې موخې لري، لکه د کيفيت لوړول، د زده کړې چاپېريال ښه کول، د استادانو او محصلينو د ظرفيت لوړول، او د ټولنيزې ښېرازۍ هڅول. دا پلان د SWOT تحليل پر بنسټ د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۴-۱۴۰۸هـ ش) لپاره ترتيب شوی، چې د علمي نوښت، څېړنيزې ودې او ټولنيزو خدمتونو لپاره يو اغېزمن چوکاټ او تګلاره جوړوي.

زموږ سره به دې پلان د اهدافو په ترلاسه کولو کې د دې پوهنځي د استاذانو، محصلينو، او اداري کارکوونکو ژمنتيا زياته اړينه ده، دا پلان د لوړو زده کړو وزارت د نوې لارښود مطابق ترتيب شوی او موخه يې دا ده چې د دې مسلک لپاره داسې مسلکي کادرونه وړاندې کړي چې د ټولنې لپاره مثالي وګړي وي.

په پای کې، له ټولو دخيلو خواؤ هيله کېږي چې د پلان په پلي کولو کې فعاله ونډه واخلي، ځکه زموږ ګډ تعهد او همکاري به پوهنتون او پوهنځی خپلو ستراتېژيکو موخو ته ورسوي، ان شاءالله.

**درنښت**

**پوهنيار مجيد الله ماموند**

**د حقوق او سياسي علوم پوهنځي رئيس**

# مفاهیم

## مفاهیم ( اصطلاحات)

د ستراتېژيک پلان د پروګرام پلي کېدا چې د پوهنتون د چارو د سمون او پرمختګ لپاره بنسټيزه اړتيا ده، په لاندې مفاهيمو کې به د پروګرام هره برخه تعريف شوې ده.

**پروګرام:** د هغو اقداماتو ټولګه ده چې په اګاهانه بڼه تهيه شوې وي او خاصو اهدافو ته پکې رسيدګي کېږي. په بل عبارت؛ د موخو ترلاسه کولو لپاره يوه طرحه او نقشه ده چې دندې، مهالوېش، اړينې سرچينې او نورې کړنې څرګندوي. د پروګرام په تدوين کې بايد لاندې پوښتنو ته ځوابوونکی وي: څه شی، په کومه موخه، د چا لخوا، چېرته، څه وخت، د کومې سرچينې په مرسته او په کوم اغېز سره ترسره کېږي.

**ستراتېژي:** هغه فکري طرحه ده چې د پوهنتون موخو ته د رسېدو لپاره تدوين شوې وي. يا هغه پراخه طرحه ده چې د يو پوهنتون ټول اهداف، پاليسی، پروګرامونه او عملياتي کړی په يو واحد قالب کې يو له بل سره ترتيبوي (تړي).

**ستراتېژيک پروګرام جوړنه:** په ستراتېژيک پلان کې لومړی د څانګو په کچه ستونزې، وړانديزونه او ځينې طرحې ځای پر ځای کېږي او بيا ورته په عموم کې د پوهنتون د ستراتېژيک پلان له مخې د يو منظم ميکانيزم پر بنسټ حللارې لټول کېږي.

**ستراتېژيک پلان:** د هغو طرحه شويو مرحلو خلاصه ده چې د يو پوهنتون کلي اهدافو ته د نورو واحدونو (ډيپارټمنټونه) اهدافو سره د تدوين په موخه نسبت (تړاو) ورکوي.

**ستراتېژيک پروګرام جوړونه:** د مديريتي اقداماتو او پرېکړو هغه علمي او هنري ټولګه ده چې د محيطي عواملو په پام سره موخو ته د رسيدو په نيت تدوين، اجرا او ارزيابي کېږي.

**تدوين:** د ستراتېژيکې پلان جوړونې هغه برخه ده چې د لرليد، ماموريت، ارزښتونو ، اهدافو، د محيطي عواملو (داخلي او بهرنی)، تحليل ستراتېژيک حالت ټاکل، ممکنه ستراتېژيانو ټاکنه او د ستراتېژۍ لومړيتوبونه ټاکي.

**اجرا:** د ستراتېژيک پروګرام جوړونې هغه برخه ده چې د ستراتېژيکو لومړيتوبونو، لنډمهاله اهدافو ټاکل، کلنيو کړنو، بوديجې تدوين، د پوهنتون د جوړښت طرحه کول، اجرائيوي پاليسيو تدوين، د پوهنتون د رهبرۍ د سبک ټاکل او منابعو تخصيصول مشخصوي.

**ارزيابي:** دا د ستراتېژۍ دربيم پړاو دی چې په يو منظم ميکانيزم کې پوهنتوني کړنې د لوړو زده کړو وزارت پاليسۍ او معيارونه تطبيق کړی شي.

**لرليد:** هغه ذهني تصوير دی چې د پوهنتون د اصلي ارمان هويت څرګندوي يا هغه څه چې موږ يې لاسته راوړل غواړو، په ذهني بڼه ځانته روښانوي. يعني يو لرليد بايد دا پوښتنې ځواب کړي: (موږ څوک يو، څه کوو، چېرته ځو او راتلونکي رقيبان به مو څوک وي).

**ماموریت:** د تحصیلي بنسټ د شتون دلیل او مقصد روښانوي یا هغه سند دی یوه تحصیلي اداره له بلې هغې بېلوي. یعني د پوهنتون وجودي فلسفې علت روښانه کوي او دا باید روښانه، شفاف او ټولې ادارې ته قابل د فهم وي(علمي، خدمات، مطالعات، څېړنې او منابع) پکې ځای پر ځای شي.

**هدف:** د اهدافو ټاکلو څخه موخه په ګټورو مقاصدو باندې د پوهنتون د لرلید او ماموریت بدلول دي. یا هغه نقطه ده چې موږ ورته رسېدل غواړو. اهداف باید د لاسرسي وړ وي، ننګونکي، د زماني بعد لرونکي او د ترلاسه کولو شېوه یې مشخصه وي.

**ارزښتونه:** هغه باورمند او منل شوي اصول دي چې د پوهنتون اخلاقي لوړتیا او تصمیم نیونې سلوکي چلند په کې تصویربېږي. یعني د (صداقت، نوښت، تخصصي والی، مسلکي اخلاق، ګډون، مسؤلیت پذیري، ټیم ورک، شایسته سالاري...) رانغاړونکي دي.

**د داخلي عواملو مېټریکس (Internal factors evaluation matrix) IFEM**

د پوهنتون هغه بنسټیز عناصر دي چې په داخلي چاپیریال پورې تړاو لري او د بهرنیو عواملو خلاف د ادارې د لرلید تر کنترول لاندې وي او په دوو برخو وېشل کېږي: پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې (قوت او ضعف).

**بهرني عواملو د تحلیل میټریکس (External factors evaluation matrix) EFEM**

هغه پروسه ده چې د پوهنتون لپاره د لوی محیط د فرصتونو او تهدیدونو تفسیر پرانیزي. لکه حقوق او سیاسي علومي، سیاسي، فرهنګي، قانوني، ټولنیز او نړیوال بدلونونه په پام کې نیسي. بهرني عوامل د خپلو فعالیتونو پروړاندې د شته فرصتونونو او ننګونو عوامل څېړي او تجزیه او تحلیلوي یې.

**د داخلي او بهرني عواملو مېټریکس (Internal and external) IE**

دا مېټریکس داخلي او بهرني عواملو مقایسې لپاره د مطالعې یا تطبیق یو ښه زمینه ساز سیستم دی. ددې له لارې ستراتېژي په ښه شکل تطبیقېدلی شي او هم د کوچنیو ستراتېژیو ټاکلو ته لار پرانیزي.

**سوات: قوت، کمزورتیا، فرصت او تهدید (Strengths, weakness, opportunity and threat) SWOT**

دا د قوت (Strengths)، ضعف (weaknesses)، فرصت (opportunities) او تهدید (threats) لنډیز دی چې دا روش د ستراتېژۍ د تدوین وسیله ګڼل کېږي. ددغه تحلیل په واسطه دا چاره شونې کېږي چې لومړی داخلي تجزیه او تحلیل شي او دویم قدم کې د سازمان پیاوړتیاوې له محیطي فرصتونونو سره متوازن کړي.

**قوت (Strengths):** هغه ممتازه شایسته ګي ده چې په واسطه یې پوهنتون کولی شي د خپلو رقیبانو، تامینوونکو او پیرودونکو ترمنځ مثبت ذهني انځور او نور مهم اړخونه پام کې ونیسي.

**ضعف (weaknesses):** په امکاناتو، منابعو او مهارتونو کې هغه محدودیت دی چې په محسوس ډول د پوهنتون چارو پرمخ تلو جوړېدلی شي.

**فرصت (opportunities) :** هر هغه بیرونی عامل چې د پوهنتون ماموریت سره مرسته کوي. یا هغه پټ ظرفیت دی چې پوهنتون سره د مثبتې پرمختیا پر لور مرسته کوي او ترې ګټه اخیستنه به یې له ځان سره تحصیلي بنسټ ته د پام وړ مزیاوې ولري.

**تهدید (threats):** په بهرني چاپيريال کې د څنه زنۍ او نامطلوب بریا میزان ته وایي لکه د بنسټیزو تامینوونکو او اخیستونکو د چنو وهلو وړتیا، د تکنالوژۍ د ناڅاپي او لوی بدلون او نور هغه موارد چې د پوهنتون یا تحصیلي بنسټ پرمخ لوی ګواښ ګنل کېدای شي.

**SO/ تهاجمي ستراتېژي:** پوهنتون غواړي ددې ستراتېژۍ په مرسته د خپل داخلي قوت په واسطه بیروني فرصتونو څخه ګټه واخلي.

**Wo/ محافظه کاره (ځان ساتونکې) ستراتېژي:** په دغې ستراتېژۍ سره تحصیلي بنسټ د خپلو بهرنیو فرصتونو په موجودیت داخلي کمزورتیاوو ته قوت ورکوي.

**ST/ رقابتي ستراتېژي:** په دغې ستراتېژۍ سره تحصیلي بنسټ د خپل قوت په نقطو د خپل بهرني محیط تهدیدات کموي/ له منځه وړي.

**WT/ تدافي (دفاعي) ستراتېژي:** پوهنتونونه او تحصیلي بنسټونه په دغې ستراتېژۍ سره غواړي دفاعي حالت غوره کړي. یعني هڅه کوي خپله داخلي کمزورتیا او بهرني محیط تهدیدات کم کړي.

**د کمیتي ستراتېژیک پلان جوړونې مېټریکس (Quantitative strategy planning Matrix)QSPM :** له دې تګلارې څخه په ګټه اخیستنې سره د ستراتېژیانو بېلابېلې برخې پېژندل کېږي او د تطبیق پرمهال تر ارزونې لاندې نیول کېږي. دا مېټریکس د هرې ستراتېژۍ لپاره لومړیتوب ټاکل. د تطبیق په مرحله کې تر ارزیابۍ لاندې نیول کېږي. د تحصیلي بنسټونو اړوند مسؤلین او پلان جوړونکي د ستراتېژیو نسبي راښکون او لومړیتوب ته په پام سره د غوره ستراتېژۍ د ټاکنې په اړه پرېکړه کوي چې په مرسته یې کولی شو له ځو ستراتېژیو وړ او مناسبه ستراتېژي غوره او وټاکو.

## د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي د ستراتېژيکي برنامې چوکاټ



## مقدمه (کلیات)

علمي مرکزونه د ټولنې د هر ډول پرمختګ بنسټيز جوړښتونه دي. د کيفيت محورو زده‌کړو، نوښت او علمي څېړنو اهميت نه يوازې د بشري پانګې د پياوړتيا لپاره حياتي دی، بلکې د ټولنې د ستونزو د حل، علمي ودې او نړيوال رقابت ته د چمتووالي لپاره هم بنسټيز رول لري.

په همدې موخه، تابش پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د بدلون او پرمختګ له روانو اړتياوو او فرصتونو سره په همغږۍ کې، يو هر اړخيز او واضح ستراتيژيک پلان ترتيب کړی دی. په دې پلان کې د پوهنځي ليدلوری، ماموريت، ارزښتونه او ستراتيژيکې موخې په دقيق ډول تعريف شوي دي.

ياد پلان د ملي او نړيوالو معيارونو په رڼا کې د علمي کيفيت لوړولو، څېړنيزو فعاليتونو پراخولو، د زده‌کړې او تدريس معياري کولو، او ټولنې ته د مؤثرو خدمتونو وړاندې کولو ته ژمتيا ښائي. د ستراتيژيک پلان په جوړولو کې د استادانو، محصلينو، اداري کارکوونکو او نورو شريکانو نظريات په پام کې نيول شوې دي، ترڅو يو واقعي، عملي او تطبيقېدونکی پلان ولرو.

د حقوق او سياسي علومو پوهنځي د تابش په پوهتنو په چوکاټ کې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې د لوړو زده کړو وزارت سره د (۲۱) ګڼه جواز لمخې په دوو څانګو (قضاء او څارنوالي او اداره او ډپلوماسي) کې علمي سفر پيل کړ .

موږ باور لرو چې د دې ستراتيژيک پلان تطبيق به د حقوق او سياسي علومو پوهنځي ته يو منظم، معياري او دوامدار پرمختيايي مسير برابر کړي، چې د حقوق، سياست، څېړنې او نورو ټولنيزو علومو په برخو کې به غوره پايلې ولري.

### د پنځه کلني بوديجي لنډيز

د حقوق او سياسيعلومو پوهنځي (۱۴۰۴ – ۱۴۰۸ ه ش) کال د پلان شويو برنامو ټوله بوديجه يوولس ميليونه، نهه څلويښت لاکه، دوه زره، اووه سوه او پنځه نوي افغانۍ (11492795) تعين او تائيد شوې ده.

### د استادانو علمي څېړنې او تاليفات

د ۱۴۰۳هـ ش کال تر پای پورې د حقوق او سياسي علومو پوهنځي د استادانو علمي څېړنې، ليکنې او څېړنيزې لاسته راوړنې په ملي او نړيوالو ژورنالونو کې په لاندې بڼه ترتيب او خپرې شوې دي:

- په نړيوالو ژورنالونو کې خپرې شوې مقالې (۱۰)

### زېربناء او اسانتياوې

تابش پوهنتون د ۱۴۰۳هـ په وروستيو کې د لاندې اسانتياوو او امکاناتو لرونکی دی:

- په دوه جريبه ځمکه کې د مجهز تدريسي او اداري خونو لرونکی تعمير، حقوقي کلينيک، کتابتون، صحي کلنيک، کمپيوټرلب، کانتين، کنفرانس هال او مسجد.

### د تېرو ستراتيژيانو د موفقيت اندازه

د شرعياتو پوهنځی د تېر ستراتېژيک پلان (۱۳۹۹-۱۴۰۳) اړوندې ستراتېژياني د دريو عمده مسايلو (۱- کرونايي وضعيت، سياسي بدلون او د مالکيت تغير) له امله په هغه بڼه چې پلان شوې وې، تطبيق نه شوې خو د شته متعهد بشري ځواک پرمټ بيا هم دغه ستراتېژی شاوخوا ۸۳٪ پورې تطبيق شوې دي.

### د تېرو ستراتيژيانو د عدم موفقيت موارد

- د سياسي بدلون سره د نصاب د مطابقت کچې کموالی
- د نصاب د دوره يي کتنې عدم بشپړتيا
- د پوهنتون د مالکيت د تغير په جريان کې د دوو کلونو فعاليتونه متاثره کېدل
- تېر ستراتېژيک پلان يو اندازه اوسني رهنمود عدم مطابقت
- د کرونا او هېواد کې د سياسي بدلون له امله د ځينو برنامو دقيق تطبيق ونه شو

### د اداري کارکوونکو شمېر

د حقوق او سياسي علوم پوهنځي د ټولو اداري کارکوونکو او خدماتي پرسونل شمېر (   ) تنو ته رسېږي (۱۴۰۳هـ ش).

| اداري کاکوونکي | | |
|---|---|---|
| نارينه | **ښځينه** | **ټول** |
| 23 تنه | . | **۴ تنه** |
| خدماتي کارکوونکي | | |
| نارينه | **ښځينه** | **ټول** |
| 1 تن | . | **1 تن** |

**د تحصیلي درجې پر بنسټ د حقوق او سیاسي علوم پوهنځي د اداري کارکوونکو جدول (۱۴۰۳هـ ش)**

| جنیست | تحصیلي کچه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | دوکتور | ماستر | لیسانس | بکلوریا | ټول |
| نارینه | ۰ | ۳ | ۱ | ۰ | ۴ |
| ښځینه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

**د حقوق او سیاسي علوم پوهنځي علمي کادر غړي**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی په ۱۴۰۳هـ ش کال کې په حقوقي علومو ډیپارټمنټ او سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ په تدریسي بهیر کې بوختو علمي کادر غړو شمېر (۲۸) تنو ته رسېږي چې لاندې جدول کې د علمي رتبې او تحصیلي کچې په پام کې نیولو سره لیست شوي دي.

**جدول**

| حقوق او سیاسي علوم پوهنځی | | | |
|---|---|---|---|
| جنسیت | دوکتور (PHD) | ماستر | لیسانس |
| نارینه | ۰ | ۲۲ | ٦ |
| ښځینه | ۰ | ۰ | ۰ |
| ټول | ۲۸ تنه | | |

**د محصلینو شمېر**

په تېرو پنځو کلونو کې د حقوق او سیاسي علوم پوهنځي د محصلینو د جذب کچه د لاندې جدول له مخې لیست شوې ده:

| کال | جنسیت | د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی | ټول |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹۹ | نارینه | ۰ | ۲۱۵ تنه |
| | ښځینه | ۰ | |
| ۱۴۰۰ | نارینه | ۰ | |
| | ښځینه | ۰ | |
| ۱۴۰۲ | نارینه | ۱٦۰ تنه | |
| | ښځینه | ۰ | |
| ۱۴۰۳ | نارینه | ۵۵ تنه | |
| | ښځینه | ۰ | |

**احصائیوي جدول او گراف**

| کال | حقوق او سیاسي علومو پوهنځی |
|---|---|
| ۱۳۹۹ | 124 تنه |
| ۱۴۰۰ | 105 تنه |
| ۱۴۰۱ | 68 تنه |
| ۱۴۰۲ | . |
| ۱۴۰۳ | . |

**د حقوق او سیاسي علوم پوهنځي د برحال محصلینو شمېر (۱۴۰۳هـ ش)**

| کال | جنسیت | | تول |
|---|---|---|---|
| ۱۴۰۳ | نارینه | ۱۶۱ | ۱۶۱ تنه |
| | ښځینه | ۰ | |

لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتون رياست

حقوقو او سياسي علومو پوهنځی

## د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي تشکيل



## لرلید
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی غواړي د باکیفیته زده کړو او علمي څېړنو پرمټ حقوق، سیاسي علوم او نړیوالو اړیکو کې ځانګړی روزنیز موقف ولري.

## ماموریت
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو موخو په پام کې نیولو سره د معاصر تدریس پر مټ ټولنې ته د عدالت، قانون حاکمیت او ښې حکومتولۍ په روحیه سنبال استعدادونه روزي.

## د پوهنځي ارزښتونه
د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی په خپلو تحصیلي، اداري، تدریسي، څېړنیزو، مالي او حسابي چارو کې د لاندې ذکر شویو ارزښتونو رعایت ته ژمن دی او د یادو یادو ارزښتونو ته درناوی لري.

### اسلامي شعایرو ته درناوی
د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي محصلین، کار کوونکي او کاري شریکان مکلف دي چې د اړوند خدماتو ارایه کولو یا خپلو اجراءاتو پر مهال د اسلامي شعایرو او ارزښتونو ته درناوی ولري او په هیڅ صورت اجازه ورنکړي چې څو په زده کړیزو او کاري پروسو کې د یادو شعایرو بې حرمتي وکړي.

### ملي ګټیو ته ژمنتیا
ملي ګټې چې د هېواد د ټولو اوسېدونکو ژوند، ګټو او ویاړونو مشترک حیثیت او وجودي شتون ګڼل کېږي، د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپل ملي مکلفیت له ادرسه په پوره درناوي د خپل معنوي ژمنتیا پر بنسټ پالي او هم یې په ساتنه کې خپل توان وړ برخه اخلي.

### مسؤلیت منل او ټولنې ته ځواب ورکول
د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د ټولو علمي او معنوي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د ټولنې د وګړو د تحصیلي روزنې ورسپارل شوې دنده په پوره ایمانداری او تعهد سره مخته وړي او په اړونده برخه کې خپلې ټولنې ته خپل ځان په ځواب ورکولو مکلف ګڼي.

### متقابل نظریاتي درناوی
د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د انساني طبعیت د متغیر جوړښت پر بنسټ د ټولو اهل نظر خاوندانو فکري او پوهنیزې وړتیا ته په پوره درښت قایل او کوښښ کوي چې د متقابل نظریاتي درناوي په روحیه برابر تحصیلي چاپیریال ولري.

### متفاوت روزنیز چاپیریال

د روزنیزو موخو او سالمو رقابتي کوښښونو پر باور متکي او ډاډمن چاپیریال ته د نظري زده کړو ښېره په عملي بڼه د داسې اشخاصو روزل چې له فراغت سره سم ځان ته په مارکېټ کې د بوختیا ظرفیت او توانمندي ولري.

### اکاډمیکه خپلواکي

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی خپلو کادري او اداري کارکوونکو سربېره خپلو زده کړیالانو ته په داسې اخلاقي او حقوقي موازینو برابره روزنیزه زمینه برابره کړې چې د اکاډمیکې کورنۍ ټول غړي په کې د اصولمندۍ پر روحیه برابر تعامل څخه برخمن او خوښمن وي.

### عادلانه زده کړې او مسلکي چلند

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپل اخلاقي مسؤلیت له مخې خپلو اجرائیوي فعالیتونو ته د عدالتمندۍ اصل ته په کتو خپل رسالت مخته وړي او هم هڅه کوي چې پوهنځي محیط د مسلکي چلند او متقابلې خیر رسونې نمونه یې ښېلګه وي.

## د پوهنتون ستراتیژیک اهداف

1. د رهبرۍ، مدیریت سیستم، اکاډمیکو فعالیتونو او پالیسیو پراختیا
2. د علمي او اداري پرسونل ظرفیت لوړونه
3. د لېسانس او فوق لیسانس برنامو ایجاد او پراختیا
4. د علمي برنامو دوره یي کتنه او نصابونو ارزونه
5. څېړنیزه پراختیا او علمي نوښت ته وده  ورکول
6. داخلي او بهرنیو  اړیکو پراختیا
7. د کیفیت لوړونه، اعتبار اخیستنه او ساتنه
8. د برېښنایي زده کړو او معلوماتي تکنالوژۍ سیستم پراختیا
9. له مختلفو لارو د عوایدو وده او پراختیا
10. د زېربناوو پیاوړتیا او پراختیا

## د پوهنځي ستراتېژیک اهداف

1. **د اداري سیستم پیاوړتیا** (اداري جوړښت منظمول او د شفاف مدیریت رامنځته کول)
2. **تدریسي او اداري ظرفیت لوړونه** (د استادانو او کارکوونکو مسلکي وړتیا لوړول)
3. **د اړتیا وړ نویو علمي برنامو ایجاد** (د بازار اړتیاو ته په کتو د نوې تحصیلي څانګې رامنځته کول)
4. **د نصابونو تدوین، تطبیق او ارزونه** (د درسي نصابونو اصلاح، پلي کول او ارزونه)
5. **کیفیت لوړونه او اعتبار ساتنه** (د علمي چارو کیفیت ښه‌والی او د اعتبار دوام)
6. **څېړنیزه وده او علمي نوښت** (د څېړنو هڅونه او د نوښت کلتور پیاوړی کول)

7. **د برېښنايي زده‌کړو پیاوړتیا او پراختیا** (د انلاین زده‌کړو پراخول او تخنیکي اسانتیاوې رامنځته کول)
8. **د اړیکو پراختیا** (له ملي او نړیوالو بنسټونو سره همکاري پراخول)
9. **عایداتي سرچینو موندل** (د مالي ثبات لپاره د عوایدو نورې لارې پیدا کول)
10. **د زېربنا او تجهیزاتو پراختیا** (د درسي ودانیو او وسایلو عصري کول)

## لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیک اهداف

د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتېژیک پلان اهداف د افغانستان اسلامي امارت د لومړیتوبونو له مخې ټاکل شوي، اړتیا لیدل کېږي چې د لوړو زده کړو ټول قدرمن بنسټونه خپلې ستراتېژۍ ددغو اهدافو په پام کې نیولو سره تدوین او اجرا کړي. دغه اهداف په لاندې ډول دي:

**لومړۍ ستره موخه: څېړنیزه پراختیا، علمي وده او نوښت**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتېژیکو اهدافو د تحقق په پام کې نیولو سره د ټولنیزو ستونزو د حل په موخه څېړنیزې ودې، پراختیا او مسلکي ظرفیت سازۍ په برخه کې غواړي لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

- د ټولنې څېړنیزه اړتیا ارزونه کول
- علمي کادر غړو ته د څېړنیزې ظرفیت سازۍ زمینه برابرول
- د څېړنیزو پروژونو ترلاسه کولو طرحې جوړول
- معاصرو څېړنیزو سیستمونو سره د استادانو او محصلینو بلدتیا
- استادانو او محصلینو څېړنیزو پروژو لپاره مالي امکانات (Research grant) ترلاسه کول
- په څېړنیزو پروسو کې بوختو استادانو او محصلینو ته اړینې اسانتیاوې برابرول
- څېړنو معاونیت رامنځته کول
- د څېړنیز ملي او بین المللي ژورنال جواز ترلاسه کول
- د څېړنیز مرکز ایجادول
- د اړتیا په پام کې نیولو سره د نویو علمي برنامو ایجادول
- اکاډمیکو فعالیتونو ته وده او انکشاف ورکول
- د اکاډمیکو برنامو د پایښت لپاره د اغېزناکو ستراتېژیو تطبیق ته زمینه برابرول

**دویمه ستره موخه: اداره او رهبري، د سیستم جوړول او اداري فساد له منځه وړل**

د اداري سیستم د نظم او ثبات لپاره د مدیریتي روشونو د غوره تطبیق او مسلکي اشخاصو ګمارنه له بنسټیزو اصولو څخه ګڼل کېږي. لوی اداري او سازمانونه د خپلو رقابتي فعالیتونو د ګټورو اجراآتو لپاره غوره رهبرۍ او مجرب کاري ټیم ته اړتیا لري چې د ستراتېژیکو موخو د تحقق ظرفیت ولري. حقوق او سیاسي علومو پوهنځی غواړي په راتلونکو پنځو کلوو کې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره خپل سازماني جوړښت په داسې بڼه عیار کړي چې په سیمه کې د یو نمونه یي سیستم په حیث و پېژندل شي:

- پیاوړی تشکیلاتي جوړښت او معاصر مدیریتي سیستم لرل
- د معلوماتي ټکنالوژۍ په وسیله د پوهنتون اداري سیستم نښلول
- شفافیت او ځواب ورکولو فرهنګ عامول
- اړوندو ادارو سره د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا ته زمینه برابرل
- د اداري مراسلاتو او اسنادو ډاډمن خوندیتوب
- په چارو کې د همغږۍ پیاوړتیا
- د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولییز پوهاوی.
- د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو تقنیني اغېزناک تطبیق
- د پوهنتون له تطبیق چارو څارنه او ارزونه کول
- په عادلانه بڼه د مجازاتو او مکافاتو د اصل پلي کول.

**درېیمه ستره موخه: د نصابونو بیا کتنه، پراختیا او تدوین**

د نړۍ چټک پرمختیایي بدلون او رقابتي هڅو ته په کتو افغاني ټولنه په ټولو برخو کې پام وړ بدلونونو او نوښتیزو خواریو ته اړتیا لري. تحصیلي بنسټونه د خپلو فعالیتونو په چوکاټ کې مکلف دي چې خپلې علمي برنامې او کریکولمونه د وخت، بازار او حالاتو د غوښتنو عیارې کړي. د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی هم نوښت او خلاقیت ته په ژمنتیا سره هڅه کوي نصابي محتوا کې مثبت بدلونونه او معاصرې غوښتنې ځای پر ځای کړي. دې برخې سره د مسؤلانه او مسلکي چلند په موخه لاندې فعالیتونه د راتلونکو پنځو کلونو لپاره په پام کې نیول شوي دي:

1. د پوهنځي په کچه د کریکولم د کمېټې پیاوړي کول.
2. د نصابونو د کلنۍ ارزونې سیستم پیاوړی کول
3. د نصابونو د دوره یي کتنو پروسې ته وده او پراختیا ورکول
4. له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو د حقوقو پوهنځیو سره د کریکولم په بیا سمونه کې ملتیا.
5. له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو د حقوق او سیاسي علومو پوهنځیو څخه د نویو چاپ شویو تدریسي کتابونو ترلاسه کول.
6. له تاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
7. د نصاب تطبیقي ارزونه او راپور ورکونه

8. د نصابونو اصلاحي کتنه او پیاوړتیا

**څلورمه ستره موخه: په لوړو زده کړو بنسټونو کې د تضمین کیفیت نظارت، ارزونه او بهبود**

تحصیلي بنسټونه مکلف دي د ملي او نړیوالو باثباته معیارونو په پام کې نیولو سره د خپلو اکاډمیکو فعالیتونو بهیر د څارنې او ارزونې تر اشراف لاندې باکیفیته او پیاوړي وساتي. په دې اړه د کیفیت لوړونې د معیارونو غوره تطبیق او اعتبار ساتنه له مهمو باوري فعالیتونه څخه دي چې د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی یې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې ترسره کوي:

1. د پوهنځي د کیفیت لوړونې کمېټې د چارو تقویتي ظرفیت لوړونه
2. د کیفیت لوړونې معیارونو د تفسیر روزنیزې برنامې چمتو کول
3. د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق ارزونه
4. د ملي او نړیوال تضمینوونکو ادارو څخه د کېفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
5. له معاصرو نړیوالو معیارونو سره د پوهنتوني برنامو همغږي کول
6. د عملي او نظري زده کړو کیفیت لوړونې ته ځانګړې پاملرنه
7. د کیفیت لوړونې او اعتبار ساتنې په موخه له نورو تحصیلي بنسټونو سره همغږي لرل.

**پینځمه ستره موخه: د برېښنایي زده کړو پراختیا او پیاوړتیا**

تکنالوژیکي پرمختیا او برېښنایي زده کړې د ننني نړۍ د رقابتي پیاوړتیا او ځان رسونې تر ټولو چټک او معاصر وسایل دي چې تحصیلي برخه یې له یو ځانګړي بدلونون منونکي حالت سره مخ کړې ده. د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپل علمي او څېړنیز بهیر د پیاوړتیا او مؤثریت په موخه د برېښنایي اسانتیاوو په چمتو کولو سره نوښت او مثبت بدلون ژمن دی او په دې برخه کې د چارو د لاګټیورتوب په موخه راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. پوهنځي کې د برېښنایي زده کړو کمېټې پیاوړي کول.
2. د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړو ته د روزنیزو برنامو برابرول.
3. اړوندو برخو کې برېښنایي زده کړو ته وده ورکول
4. د برېښنایي زده کړو پراختیا او پرمختیا په موخه ځانګړې پالیسي جوړول
5. د پوهنځي ټولو محصلینو ته د برېښنایي زده کړو په تړاو روزنیزې برنامې برابرول

**شپږمه ستره موخه: زېربناوو ته وده او پراختیا ورکول**

فزیکي سرچینې او امکانات د اداري سیستم د اجرائیوي کړنو د ترسراوي بنسټیزې اړتیاوې دي چې خپلو سترو اهدافو ته د رسېدو سهولیت پذیره زمینه سازي کوي. تحصیلي بنسټونه هم د خپلو علمي او څېړنیزې ودې په موخه زېربنایي پروژونو، لګښتونو او

پراختیا ته اړتیا لري چې سمه بنه د پرمخ شته برنامو د تطبیق ظرفیت ولرلی شي. د حقوق او سیاسي علومو په دې برخه کې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره لاندې چارې ترسره کوي:

1. د باکیفیته تدریس لپاره اړتیاوړ اسانتیاوې برابرول
2. زېربېناوو ته پراختیا او وده ورکول.
3. د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا.
4. په معلوماتي تکنالوژۍ سنبال اداري سیستم رامنځته کول
5. د فزیکي کتابتون غني کول او دیجیتل کتابتون

**اوومه ستره موخه: د علمي کادر غړو او کارکوونکو ظرفیت لوړونه**

د نړۍ چټک بدلونونه او مخ پر ودې نوښتیز رقابتونه دا ایجابوي چې هره اداره دې د خپلو بشري سرچینو معاصرې ظرفیت جوړونې ته پوره دقت او پاملرنه وکړي. د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي رهبري هڅه کوي له حالاتو او پرمختیایي بدلونونو سره د ځانجوړونې اړتیا ته په پوره پام د پوهنځي د بشري کتلې ظرفیت سازي او پرمختیا خپلو لومړیتوبونو کې ځای پر ځای کړي. تابش پوهنځی د خپل کادري او اداري ځواک د لاغښتلتیا په موخه راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا برنامو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. اداري کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې روزنیزې برنامې چمتو کول
3. علمي کادر غړو ته د تدریس د نویو روشونو (OBE- SCL) روزنېزې برنامې برابرول.
4. د ستراتیژیک پلان د اغېزناک تطبیق په موخه کارکوونکو ته روزنیزې برنامې برابرول
5. علمي کادر غړو او محصلینو ته د څېړنیزې پیاوړتیا روزنیزې برنامې برابرول

**اتمه ستره موخه: د تقنیني او تخنیکي سندونو تدوین او بیاکتنه**

اداري چارې د ځانګړو اصولو او قواعدو تر اشراف لاندې د اجرائیوي مشروعیت په ډاډ سره مخته ځي چې تقنیني او تخنیکي اسناد یې د اعتبار بنسټونه دي. تحصیلي اداري مکلفې دي د خپلو فعالیتونو د نظم او حساب ورکونې شفاف بهیر رامنځته کولو په موخه اړوندو اسنادو کې ابهام او پېچلتیا ته د بیاکتنې د اړتیا پر بنسټ ځانګړې تعدیلي طرحې جوړې او اړوندو تخصصي او مسلکي اشخاصو په مرسته یې معقولې حلالارې و موندل شي. د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د دغې چارې د ښه ترسراوي په موخه راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. د پخواني تقنیني سندونو بیاځلې کتنه
2. د تقنیني اسنادو تعدیل
3. د اړتیا په اساس د نوي تقنیني اسنادو تدوین
4. د تقنیني اسنادو د ټکرونو او تناقضاتو له منځه وړل
5. د پخوانې طرزالعلونو او مکانیزونو کره کتنه او تجدید نظر

6. د اړتیا پر اساس د نوي طرزالعلونو او مکانیزمونو تدوین.

**نهمه ستره موخه: د اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو بنسټونو سره د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا**

اړیکي د انساني اړتیاوو، نوښتونو او ښې همکارۍ تر ټولو بهترینه لار ده چې تحصیلي بنسټونه یې له اړوندو ادارو سره د همکارۍ په مثبته روحیه یو د بل ملاتړ ته هڅولې دي. د تجربو شریکولو، ظرفیت لوړونې او مرستو جلبولو اغېزناکه لار هوکړه لیکونه دي چې د تحصیلي بنسټونو ترمنځ ښې همغږۍ او معقولې همکارۍ ته زمینه سازي کوي. د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې اړوندو ادارو سره د هوکړه لیکونو لاسلیکول او تر ګټه اخیستنې په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پخوانیو تړامیتونو بیاکتنه او ګټه اخیستنې ارزونه
2. له اړوندو ادارو سره د تړامیتونو او اړیکو اړتیا ارزونه
3. د اړتیا پر اساس اړوندو بهرنیو ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کول
4. د اړتیا پر اساس اړوندو داخلي ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیکول
5. له لاسلیک شویو هوکړه لیکونو څخه د ګټه اخیستنې عملي ارزونه ترسره کول
6. له نورو لارو څخه د عوایدو رامنځته کولو بوږد رامنځته کول

**لسمه ستره موخه: لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او د محصلینو د وړتیاوو د ودې په موخه خدماتو وړاندې کول**

تحصیلي بنسټونه مکلف دي چې پرته کوم توپیر څخه د ټولنې ټولو اړوندو ونډه اخیستونکو ته په عادلانه ډول تحصیلي خدمات وړاندې او د باکیفیته پایلو په ترلاسه کولو سره یې راتلونکی تضمین کړای شي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره حقوق او سیاسي علومو پوهنځی لاندې فعالیتونه راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي:

1. د بازار د غوښتنو مطابق باکیفیته تحصیلي خدمات
2. د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه وګړو ته عامه پوهاوی ورکول.
3. د ظرفیت لوړونې په برنامو کې د محصلینو عادلانه ونډه اخیستنې ته زمینه برابرول
4. پرته له توپیره ټولو هېوادوالو ته د لوړو زده کړو مؤثره زمینه برابره
5. د ټولنې د اړتیا او غوښتنې مطابق نویو علمي برنامو ایجادول

## د محیطي عواملو تحلیل

محیطي عوامل د هغو فکتورونو ټولګه ده چې د پوهنځیو په ستراتېژیانو مستقیم اغېز لري. د محیطي عواملو په تحلیل کې د پوهنځي فعلي، تخصصي عمومي وضعیت او دورې ارزول کېږي او وروسته بیا د لوړو زده کړو زوارت د لویو اهدافو په پام کې نیولو سره معلومات بشپړېږي.

## د داخلي چاپیریال د عواملو تحلیل

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د داخلي چاپیریال پیاوړتیا او کمزورتیا عوامل په پرلپسې بڼه ترتیب او په لاندې بڼه کټګوري شوي دي.

**پیاوړتیا:**

1. د ژمن او متعده کاري ټیم شتون
2. د معیاري او معتبره تحصیلي نصاب شتون
3. د پوهنځي په کچه د مؤثرو پالیسیو او میکانیزمونو شتون
4. د پوهنځي له تدریسي کیفیت د محصلینو رضایت
5. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د ښې همغږۍ شتون
6. د زده کړیالانو لپاره د عملي کارونو زمینه سازۍ شتون
7. تدریسي بهیر کې محصل محوره او پر پایلو ولاړو زده کړیزو روشونو تطبیقي شتون
8. د پوهنځي له اکاډمیکو او اداري چارو دوامداره نظارت او دقیقه مستند سازي
9. د اکاډمیکې خپلواکۍ شتون
10. په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د استادانو د علمي او څېړنیزو مقالو نشر
11. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړوني د ځانګړو برنامو شتون
12. د کارکوونکو لپاره مناسب کاري چاپیریال او وظیفوي خوندیتوب
13. د تکنالوژیکي وسایلو او نوي ډیټابیس شتون

**کمزورتیا:**

1. د دایمي علمي کادر غړو کمښت
2. کانکور ازموینو کې د محصلینو کمرنګی ګډون
3. د علمي او تحقیقاتي سرچینو کمښت
4. له داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره د پراخو اړیکو نه شتون
5. د پوهنځي په کچه د ځانګړي کتابتون نه شتون

**IFEM (Internal factors evaluation matrix)**

| شمېره | داخلي عوامل (پياوړتيا او کمزورتيا) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ژمن او متعده کاري تيم شتون | **0.06** | **3** | 0.18 |
| ۲ | د معياري او معتبره تحصيلي نصاب شتون | **0.06** | **4** | 0.24 |
| ۳ | د پوهنځي په کچه د مؤثرو پالیسیو او میکانیزمونو شتون | **0.05** | **3** | 0.15 |
| ۴ | د پوهنځي له تدريسي کيفيت د محصلينو رضايت | **0.05** | **4** | 0.2 |
| ۵ | د استادانو، کارکوونکو او محصلينو ترمنځ د ښې همغږۍ شتون | **0.06** | **3** | 0.18 |
| ٦ | د زده کړيالانو لپاره د عملي کارونو زمينه سازی شتون | **0.05** | **3** | 0.15 |
| ۷ | تدريسي بهير کې محصل محوره او پر پايلو ولاړو زده کړيزو روشونو تطبيقي شتون | **0.06** | **4** | 0.24 |
| ۸ | د پوهنځي له اکاډميکو او اداري چارو دوامداره نظارت او دقيقه مستند سازي | **0.05** | **3** | 0.15 |
| ۹ | د اکاډميکي خپلواکی شتون | **0.05** | **4** | 0.2 |
| ۱۰ | په ملي او نړيوالو ژورنالونو کې د استادانو د علمي او څېړنيزو مقالو نشر | **0.05** | **4** | 0.2 |
| ۱۱ | د استادانو، کارکوونکو او محصلينو ظرفيت لوړونې د ځانګړو برنامو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۲ | د کارکوونکو لپاره مناسب کاري چاپيريال او وظيفوي خونديتوب | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۳ | د تکنالوژيکي وسايلو او نوي ډيتابيس شتون | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۱۴ | د دايمي علمي کادر غړو کمښت | **0.07** | **2** | 0.14 |
| ۱۵ | کانکور ازموينو کې د محصلينو کمرنګی ګډون | **0.07** | **1** | 0.07 |
| ۱٦ | د علمي او تحقيقاتي سرچينو کمښت | **0.07** | **1** | 0.07 |
| ۱۷ | له داخلي او بهرنيو تحصيلي بنسټونو سره د پراخو اړيکو نه شتون | **0.05** | **1** | 0.05 |
| ۱۸ | د پوهنځي په کچه د ځانګړي کتابتون نه شتون | 0.06 | 2 | 0.12 |
| **ټوټل** | | 1 | | **2.64** |

## د بهرني چاپيريال د تحليل عوامل

**فرصتونه:**

1. له خصوصي تحصيلي بنسټونو څخه د لوړو زده کړو وزارت ملاتړ شتون
2. د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نويو علمي برنامو د ايجاد د اسانتياوو شتون
3. داخلي او بهرنيو تحصيلي بنسټونو سره د پراخو اړيکو رغولو د اسانتياوو شتون
4. د څېړنيزو ستونزو (موضوعاتو) او پروژو شتون
5. د علمي کادر په مرسته څېړنيز خدمات ترسره کولو لپاره د مساعد چاپيريال شتون
6. د ټولنې د اداري سيستم او ريفورم اړوند مسلکي او متخصصې بشري قوې روزنيزې اړتيا شتون
7. د ټولو علمي او پرمختيايي برخو لپاره واضح ستراتېژيانو شتون
8. په ټولنه کې له لوړو زده کړو سره د خلکو د لېوالتيا شتون
9. په ټولنه کې د داېمن امنيت شتون

**ګواښونه**

1. د خلکو کمزورى اقتصادي وضعيت
2. له هېواده د ځوانانو وتل/ فرار
3. د ماستر او دوکتورا په کچه علمي کادرونو کمښت
4. له معارف څخه په ټيټه سويه د دولسم ټولګيو زده کوونکو فراغت
5. محصلينو کې د لوړ زده کړو پيلولو د روحيې کمزورتيا
6. د خصوصي تحصيلي بنسټونو په اړه ناسم تبليغات

EFEM (External factors evaluation matrix)

| شمېره | بهرني عوامل (فرصتونه او ګواښونه) | وزني ضريب | وزني امتياز | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له خصوصي تحصيلي بنسټونو څخه د لوړو زده کړو وزارت ملاتړ شتون | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۲ | د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نويو علمي برنامو د ايجاد د اسانتياوو شتون | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۳ | داخلي او بهرنيو تحصيلي بنسټونو سره د پراخو اړيکو رغولو د اسانتياوو شتون | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۴ | د څېړنيزو ستونزو (موضوعاتو) او پروژو شتون | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۵ | د علمي کادر په مرسته څېړنيز خدمات ترسره کولو لپاره د مساعد چاپيريال شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ٦ | د ټولنې د اداري سيستم او ريفورم اړوند مسلکي او متخصصې بشري قوې روزنيزې اړتيا شتون | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۷ | د ټولو علمي او پرمختيايي برخو لپاره واضح ستراتېژيانو شتون | 0.06 | 3 | 0.18 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | په ټولنه کې له لوړو زده کړو سره د خلکو د لېوالتیا شتون | **0.05** | **3** | 0.15 |
| ۹ | په ټولنه کې د دا‌ېمن امنیت شتون | **0.07** | **3** | 0.21 |
| ۱۰ | د خلکو کمزوری اقتصادي وضعیت | **0.08** | **4** | 0.32 |
| ۱۱ | له هېواده د ځوانانو وتل/ فرار | **0.09** | **1** | 0.09 |
| ۱۲ | د ماستر او دوکتورا په کچه علمي کادرونو کمښت | **0.08** | **1** | 0.08 |
| ۱۳ | له معارف څخه په ټیټه سویه د دولسم ټولګیو زده کوونکو فراغت | **0.06** | **2** | 0.12 |
| ۱۴ | محصلینو کې د لوړ زده کړو پیلولو د روحیې کمزورتیا | **0.08** | **1** | 0.08 |
| ۱۵ | د خصوصي تحصیلي بنسټونو په اړه ناسم تبلیغات | **0.07** | **1** | 0.07 |
| **ټوټل** | | 1 | | **2.50** |

## د چاپیریالي عواملو مقایسه (داخلي+ بهرني)

### د IE روِش

پورته ګراف د حقوق او سیاسي علوم پوهنځي د داخلي او بهرني محیطونو د تحلیل مېټریکس واضح کوي چې په کې د داخلي محیط د لاملونو نمرې (2.64) او د بهرني محیط د عواملو نمرې (2.50) دي. د دواړو محیطونو د ترلاسه شویو نمرو په پای کې حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د حفظ و ثبات په وضعیت کې قرار لري چې پوهنځی په مارکېټ کې د خپلو اکاډمیکو او څېړنیزو وړتیاوو په پام کې نیولو سره له شته پیاوړتیاوو او فرصتونو څخه پوره ګټه واخلي.

**د ستراتېژیک حالت موقف**







د داخلي او بهرني چاپیریال د څلور خانه يي مېټریکس په ارزونه کې د داخلي او بهرنیو عواملو پر بنسټ د حقوق او سیاسي علوم پوهنځي لپاره رقابتي ستراتېژۍ موقف ټاکي. د پورته څلورو خانو په ترتیب سره پوهنځي ته بریدګره. رقابتي، محافظه کاره او دفاعي ستراتېژۍ څرګندېږي.

## د SWOT روِش

| | **پیاوړتیا (Strengths)** | **کمزورتیا (Weaknesses)** |
|---|---|---|
| **دا خلي عوامل**<br>**Internal factors**<br>**بهرني عوامل**<br>**External factors** | 1. د ژمن او متعدد کاري ټیم شتون<br>2. د معیاري او معتبره تحصیلي نصاب شتون<br>3. د پوهنځي په کچه د مؤثرو پالیسیو او میکانیزمونو شتون<br>4. د پوهنځي له تدریسي کیفیت د محصلینو رضایت<br>5. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د ښې همغږۍ شتون<br>6. د زده کړیالانو لپاره د عملي کارونو زمینه سازی شتون<br>7. تدریسي بهیر کې محصل محوره او پر پایلو ولاړو زده کړیزو روشونو تطبیقي شتون<br>8. د پوهنځي له اکاډمیکو او اداري چارو دوامداره نظارت او دقیقه مستند سازي<br>9. د اکاډمیکې خپلواکۍ شتون<br>10. په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د استادانو د علمي او څېړنیزو مقالو نشر<br>11. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړونې د ځانګړو برنامو شتون<br>12. د کارکوونکو لپاره مناسب کاري چاپېریال او وظیفوي خوندیتوب<br>13. د تکنالوژیکي وسایلو او نوي ډیټابیس شتون | 1. د دایمي علمي کادر غړو کمښت<br>2. کانکور ازموینو کې د محصلینو کمرنګی ګډون<br>3. د علمي او تحقیقاتي سرچینو کمښت<br>4. له داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره د پراخو اړیکو نه شتون<br>5. د پوهنځي په کچه د ځانګړي کتابتون نه شتون |
| فرصتونه(Opportunities)<br>1. له خصوصي تحصیلي بنسټونو څخه د لوړو زده کړو وزارت ملاتړ شتون<br>2. د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نویو علمي برنامو د ایجاد د اسانتیاوو شتون<br>3. داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره د پراخو اړیکو رغولو د اسانتیاوو شتون<br>4. د څېړنیزو ستونزو (موضوعاتو) او پروژو شتون<br>5. د علمي کادر په مرسته څېړنیز خدمات ترسره کولو لپاره د مساعد چاپېریال شتون<br>6. د ټولنې د اداري سیستم او ریفورم اړوند مسلکي او متخصصي بشري قوې روزنیزې اړتیا شتون<br>7. د ټولو علمي او پرمختیایي برخو لپاره واضح ستراتېژیانو شتون | تهاجمي وضعیت(SO)<br>1- د (s1) په واسطه له (o4) څخه ګټه اخیستل<br>2- د (s2) په واسطه له (o8) څخه ګټه اخیستل.<br>3- د (s3+s4) په واسطه له (o2) څخه ګټه اخیستل<br>4- د (s7+s11) په واسطه له (o6) څخه ګټه اخیستل<br>5- د (s8+s9) په واسطه له (o1) څخه ګټه اخیستل<br>6- د (s10) په واسطه له (o4+o5) څخه ګټه اخیستل<br>7- د (s12+s13) په واسطه له (o9) څخه ګټه اخیستل | محافظه کارانه وضعیت(WO)<br>1- د (o1+o2+o9) په واسطه د (w1+w2) پیاوړي کول<br>2- د (o3) په واسطه د (w4) پیاوړي کول<br>3- د (o4+o5+o6) په واسطه د (w3) پیاوړي کول<br>4- د (o7+o8) په واسطه د (w5) پیاوړي کول<br>5- د (o9) په واسطه د (w6) پیاوړي کول |

| | | |
|---|---|---|
| 8. په ټولنه کې له لوړو زده کړو سره د خلکو د لېوالتیا شتون<br>9. په ټولنه کې د دایمي امنیت شتون | | |
| ګواښونه(Threats)<br>1. د خلکو کمزوری اقتصادي وضعیت<br>2. له هېواده د ځوانانو وتل/ فرار<br>3. د ماستر او دوکتورا په کچه علمي کادرونو کمښت<br>4. له معارف څخه په ټيټه سويه د دولسم ټولګيو زده کوونکو فراغت<br>5. محصلينو کې د لوړ زده کړو پيلولو د روحيې کمزورتيا<br>6. د خصوصي تحصيلي بنسټونو په اړه ناسم تبليغات | رقابتي وضعيت(ST)<br>1- د (s6+s10) په واسطه د (t1+s2) له منځه وړل<br>2- د (s3+s6+s9) په واسطه د (t3) له منځه وړل<br>3- د (s7+s11+s12) په واسطه د (t4) له منځه وړل<br>4- د (s1+s8) په واسطه د (t5) له منځه وړل<br>5- د (s2+s4+s5) په واسطه د (t6) له منځه وړل | تدافعي وضعيت (WT)<br>1- د (w1) په پياوړتيا سره د (t3) مخنيوی کول<br>2- د (w2) په پياوړتيا سره د (t5) مخنيوی کول<br>3- د (w3) په پياوړتيا سره د (t2) مخنيوی کول<br>4- د (w4) په پياوړتيا سره د (t6) مخنيوی کول<br>5- د (w5) په پياوړتيا سره د (t4) مخنيوی کول |

## د پوهنځي د ستراتېژيو تاکنه

د حقوق او سياسي علومو پوهنځي د ستراتېژيو ټاکنه د محيطي عواملو د تحليل هغه پايله ده چې د پوهنځي اهدافو ته د رسېدو په موخه معقولې لارې، فعاليتونه او روشونه په ګوته کوي. ټاکل شوې ستراتېژیانې د پوهنځي او ډيپارټمنټونو په کچه له پنځو کلونو نيولې آن تر يو کلنو فعاليتونو پورې مشخصوي.

### ۱- پیاوړې اداره او غوره رهبري

- مسؤليت پذيري او ځواب ورکونه
- د مسلکي او مجربې بشري قوې ګمارنه
- هوکړه ليکونه او د اړيکو پراختيا
- د تقنيني اسنادو اغېزناک تطبيق

### ۲- علمي پروګرامونه او کیفیت لوړونه

- نويو علمي برنامو ايجاد
- عملي زده کړو او علمي سفرونو پراختيا
- کيفيت لوړونه
- د علمي برنامو څارنه او ارزونه
- د تدريسي او اداري چارو څارنه او ارزونه
- د نصابونو دوره يي کتنه
- د نصابونو کلنی ارزونه

**۳- علمي او څېړنيز خدمات**

- د څېړنيزو ستونزو نيازسنجی
- څېړنيزه وده او پراختيا
- محصل محوره او پر پايلو ولاړې زده کړې
- باکيفيته تحصيلي خدمات
- په ټولنه کې فعاله ونډه اخيستنه

**۴- ظرفيت لوړونه**

- د استادانو او اداري کارکوونکو ظرفيت لوړونه
- د محصلينو ظرفيت لوړونه

**۵- مالي توانمندي**

- د څېړنيزو پروژو ترلاسه کول
- اداري پراختيا

## د ستراتېژيو لومړيتوب

د (QSPM) مېټرېکس پر اساس د ستراتېژيو د لومړيتوب ټاکنه حقوق او سیاسي علومو پوهنځي ته دا فرصت ورکوي چې خپلو لويو، منځمهاله او لنډمهاله اهدافو ته واضح ستراتېژياني وټاکي او هم له همدغې لارې د واضح جدولونو او په پام کې نیولو سره د خپلو راتلونکو پنځو کلونو د تطبیق ساحه مشخصه کړی شي. تابش پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د کمي ستراتېژۍ په ټولو ټاکل شویو ستراتېژيو کې د خپلو لومړيتونو په پام کې نیولو سره ستراتېژيک لومړيتوبونه ټاکلي او غوره کړي دي.

| ستراتېژياني<br>اصلي عوامل داخلي او بهرني | مسؤلیت پذیري او ځواب ورکونه | | | د مسلکي او مجربې بشري قوې ګمارنه | | هوکړه لیکونه او د اړیکو پراختیا | | د تقنیني اسنادو اغېزناک تطبیق | | نوي علمي برنامو ایجاد | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ارزښت نمره | د جذابیت نمره | نمره | د ارزښت نمره | د جذابیت نمره | د ارزښت نمره | د جذابیت نمره | د ارزښت نمره | د جذابیت نمره | د ارزښت نمره | د جذابیت نمره |
| **فرصتونه:** | | | | | | | | | | | |
| له خصوصي تحصیلي بنسټونو څخه د لوړو زده کړو وزارت ملاتړ شتون | 0.08 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 |
| د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نویو علمي برنامو د ایجاد د اسانتیاوو شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 |
| داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره د پراخو اړیکو رغولو د اسانتیاوو شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| د څېړنیزو ستونزو (موضوعاتو) او پروژو شتون | 0.05 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| د علمي کادر په مرسته څېړنیز خدمات ترسره کولو لپاره د مساعد چاپېریال شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 |
| د ټولنې د اداري سیستم او ریفورم اړوند مسلکي او متخصصې بشري قوې روزنيزې اړتیا شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| د ټولو علمي او پرمختیایي برخو لپاره واضح ستراتېژيانو شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 |
| په ټولنه کې له لوړو زده کړو سره د خلکو د لېوالتیا شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
| په ټولنه کې د دوامداره امنیت شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 |
| **تهدیدونه:** | | | | | | | | | | | |
| د خلکو کمزورې اقتصادي وضعیت | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 2 | 0.18 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| له هېواده د ځوانانو وتل/ فرار | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 |
| د ماستر او دوکتورا په کچه علمي کادرونو کمښت | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 |
| له معارف څخه په ټیټه سویه د دولسم ټولګیو زده کوونکو فراغت | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 |
| محصلینو کې د لوړ زده کړو پیلولو د روحیې کمزورتیا | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 |
| د خصوصي تحصیلي بنسټونو په اړه ناسم تبلیغات | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 |
| **قوت:** | | | | | | | | | | | |
| د ژمن او متعده کاري ټیم شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| د معیاري او معتبره تحصیلي نصاب شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 |
| د پوهنځي په کچه د مؤثرو پالیسیو او میکانیزمونو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 |
| د پوهنځي له تدریسي کیفیت د محصلینو رضایت | 0.05 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د ښې همغږۍ شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 |
| د زده کړیالانو لپاره د عملي کارونو زمینه سازۍ شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| تدریسي بهیر کې محصل محوره او پر پایلو ولاړو زده کړیزو روشونو تطبیقي شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 |
| د پوهنځي له اکاډمیکو او اداري چارو دوامداره نظارت او دقیقه مستند سازي | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
| د اکاډمیکي خپلواکۍ شتون | 0.05 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د استادانو د علمي او څېړنیزو مقالو نشر | 0.05 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 |
| د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړوني د ځانګړو برنامو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| د کارکوونکو لپاره مناسب کاري چاپېریال او وظیفوي خوندیتوب | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
| د تکنالوژیکي وسایلو او نوي ډیټابیس شتون | **0.04** | **3** | **0.12** | **3** | **0.12** | **4** | **0.16** | **4** | **0.16** | **3** | **0.12** |
| **کمزورتیا** | | | | | | | | | | | |
| د دایمي علمي کادر غړو کمښت | 0.07 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 |
| کانکور ازموینو کې د محصلینو کمرنګی ګډون | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 |
| د علمي او تحقیقاتي سرچینو کمښت | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 |
| له داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره د پراخو اړیکو نه شتون | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پوهنځي په کچه د ځانګړي کتابتون نه شتون | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| **مجموعه** | **2** | | **5.14** | | **5.03** | | **5.39** | | **5.26** | | **5.29** |

## د ستراتېژیو لومړیتوب

د (QSPM) مېټریکس پر اساس د ستراتېژیو د لومړیتوب ټاکنه حقوق او سیاسي علومو پوهنځي ته دا فرصت ورکوي چې خپلو لویو، منځمهاله او لنډمهاله اهدافو ته واضح ستراتېژیاني وټاکي او هم له همدغې لارې د واضح جدولونو او په پام کې نیولو سره د خپلو راتلونکو پنځو کلونو د تطبیق ساحه مشخصه کړی شي. د تابش پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د کمي ستراتېژۍ په ټولو ټاکل شویو ستراتېژیو کې د خپلو لومړیتونو په پام کې نیولو سره ستراتېژیک لومړیتوبونه ټاکلي او غوره کړي دي.

| ستراتېژیاني<br>اصلي عوامل داخلي او بهرني | عملي زده کړو او علمي سفرونو پراختیا | | | کیفیت لوړونه | | د علمي برنامو ځارنه او ارزونه | | د تدریسي او اداري چارو ځارنه او ارزونه | | د نصابونو دوره یي کتنه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | نمره | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب |
| **فرصتونه:** | | | | | | | | | | | |
| له خصوصي تحصیلي بنسټونو څخه د لوړو زده کړو وزارت ملاتړ شتون | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 |
| د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نویو علمي برنامو د ایجاد د اسانتیاوو شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 |
| داخلي او بهرنیو تحصیلي بنسټونو سره د پراخو اړیکو رغولو د اسانتیاوو شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| د څېړنیزو ستونزو (موضوعاتو) او پروژو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| د علمي کادر په مرسته څېړنیز خدمات ترسره کولو لپاره د مساعد چاپېریال شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 |
| د ټولنې د اداري سیستم او ریفورم اړوند مسلکي او متخصصې بشري قوې روزنیزې اړتیا شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 |
| د ټولو علمي او پرمختیایي برخو لپاره واضح ستراتېژیانو شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| په ټولنه کې له لوړو زده کړو سره د خلکو د لېوالتیا شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په ټولنه کې د ډاډمن امنیت شتون | 0.07 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| **تهدیدونه:** | | | | | | | | | | | |
| د خلکو کمزوری اقتصادي وضعیت | 0.09 | 1 | 0.09 | 2 | 0.18 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 | 1 | 0.09 |
| له هیواده د ځوانانو وتل/ فرار | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| د ماستر او دوکتورا په کچه علمي کادرونو کمښت | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 |
| له معارف څخه په ټیټه سویه د دولسم ټولګیو زده کوونکو فراغت | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 |
| محصلینو کې د لوړ زده کړو پیلولو د روحیې کمزورتیا | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 |
| د خصوصي تحصیلي بنسټونو په اړه ناسم تبلیغات | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 |
| **قوت:** | | | | | | | | | | | |
| د ژمن او متعده کاري ټیم شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 |
| د معیاري او معتبره تحصیلي نصاب شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 |
| د پوهنځي په کچه د مؤثرو پالیسیو او میکانیزمونو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
| د پوهنځي له تدریسي کیفیت د محصلینو رضایت | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
| د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د بنې همغږئ شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| د زده کړیالانو لپاره د عملي کارونو زمینه سازی شتون | 0.05 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
